safar

# له خدای سره وخت

## دغه ډول وده کوئ

### د پيل ټکی

الهي کورنۍ ته ښه راغلاست!
هر يو تاسو د پنځو څخه ترلسو دقيقو پورې د خپل د ژوند شهادت وواياست ـــ څه وشول چې پرېکړه مو وکړه د مسيح نه پيروي وکړي؟
څو شيبې يو ځای شکرگزاري وکړئ او له خدايه وغواړئ چې ستاسو د دې وخت دپاره تاسو ته برکت ورکړي.

### بحث او خبرې

د هغو کسانو په هکله فکر وکړئ چې د هغوی سره نژدې اړيکې لرئ. (د کورنۍ غړي، ملگري او همکاران)

- څنگه د هغوی سره اشنا شوئ؟
- په دې خاطر چې هغوی ښه وپېژني، کوم کارونه کولای شئ سرته ورسوئ؟

زمونږ اړيکې د نورو سره هغه وخت وده کوي، چې د هغوی سره وخت تېروو: د هغوی سره خبرې کوو، د هغوی خبرو ته غوږ نيسو، د هغوی سره کار کوو او يا استراحت کوو او داسې نور.

### اصلي مفکوره

يو مسيحي له خدای سره د وخت په تېرولو سره هغه ته نژدې کيږي او ايمان يې قوي کيږي. درې مهمې لارې شتون لري چې مونږ ټول کولای شو دا کار سرته ورسوو: د انجيل لوستل، دعا کول او د کليسا سره اړيکه.

راځئ چې د خدای سره وخت تېرول له دې دريو لارو څخه وگورو:

1. **مونږ د سپېڅلي کتاب په لوستلو سره خدای پېژنو.** سپېڅلی کتاب (د خدای کلام) په نامه هم يادېږي، ځکه خدای د سپېڅلي کتاپ په مرسته زمونږ سره خبرې کوي او خپله مينه مونږ ته ښکاره کوي. دا موضوع مونږ ته ښيي چې څنگه کولای شو هغه وپېژنو او د هغه په مينه کې ژوند وکړو.

کله چې سپېڅلی کتاب لولو، د خدای د کلام د حقيقت په وسيله زمونږ زړه او ذهن بدلون مومي. مونږ په دې طريقې خدای پېژنو او د هغه ښې کړنلارې او هدفونه زمونږ د ژوند دپاره درکوو. د سپېڅلي کتاب د اشنايي سره دا ځای کليک کړئ.

1. **همدارنگه مونږ په دعاکولو سره خدای پېژنو.**

دعا په ساده ژبه د خدای سره خبرې کول دي. لکه څنگه چې د هغه سره خبرې کوو، هغه هم په مختلفو طريقو له مونږ سره خبرې کوي. هغه مونږ ته ځواب راکوي، زمونږ زړه هڅوي، مونږ ته قدرت راکوي او لارښوونه مو کوي.

1. **مونږ خدای د هغه د کليسا له لارې پېژنو.**

کليسا د خدای کورنۍ ده چې ټول ايمانداران د هغه غړي دي. کله چې د خدای د کورنۍ سره اړيکه نيسو او يو ځای د خدای عبادت کوو، په ايمان او مينه کې وده کوو.

### په کلام باندې تعمق او غور

د سپېڅلي کتاب دا لاندې ايتونه ولولئ او وگورئ چې د سپېڅلي کتاب په لوستلو او دعا کې څومره زيات برکات شته.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

1. **رومیان ۴:۱۵** د سپېڅلي کتاب لوستل مونږ ته باور او امېد راکوي.
2. **زبور ۱۰۵:۱۱۹** د سپڅلي کتاب لوستل مونږ ته د ژوند د لارې لارښونه کوي.
3. **فیلیپیان ۴: ۶-۷** دعا له مونږ سره مرسته کوي چې خپلې اندېښنې خدای ته وسپارو او د هغه له حضورنه خوند واخلو.
4. **ارمیا ۳:۳۳** دعا مونږ د خدای په هکله د لویو شیانو خبروي.
5. **متی ۱۸:-۲۰** له نورو ایماندارنو سره ګډون مونږ سره مرسته کوي چې د عیسی حضور زیات تجربه کړو.
6. **عبرانیان ۱۰ : ۲۴-۲۵** له نورو ایماندارانو سره ګډون مونږ مینې او وفادارۍ ته هڅوي.

څومره ښېګڼې په همدې څو ایتونو کې په یوازې توګه د سپېڅلي کتاب په لوستلو او دعا کې شمېرلې شو؟

ډېرغوره کار چې هره ورځ کولای شو سرته ورسوو، دا دی چې له خدای سره وخت تېرکړو. اوس به وګورو چې څنګه کولای شو دا کار پیل کړو.

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

دا درې لاندې ساده قدمونه به تاسو سره مرسته وکړي، چې د خدای سره خپل ورځنی وخت پیل کړئ.

1. له دعا سره یې پیل کړئ: شکر وکړئ د خدای د وجود په خاطر او له هغه نه وغواړئ چې د خدای د کلام د لوستلو په وخت کې له تاسو سره خبرې وکړي.
2. د خدای د کلام یوه برخه ولولئ.
3. په هغې برخې چې لوستې مو ده، فکر وکړئ:
   - دا برخه د خدای په هکله مونږ ته څه وايي؟
   - دا د نن ورځې برخه مونږ ته څه معنی لري؟

اوس د زبور ۱ په کارولو سره دا درې مرحلې پروسه په ګډه تمرین کړئ.

په پای کې په دې هکله بحث او خبرې وکړئ، چې څنګه او چېرې کولای شئ له نورو ایمدارانو سره ګډون ولرئ او په ګډه د خدای عبادت وکړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

موږ هره ورځ د تمرین کولو سره وده کوو.
د هر ګام په پای کې د دې دپاره لارښود شتون لري چې تاسو څنګه کولی شئ په راتلونکو ورځو کې تمرین وکړئ.
نن ورځ خپل وخت د ورځني تمرین لپاره د نظرونو په لوستلو او بحث کولو سره تېر کړئ.
بیا د مرحلې بشپړ په نښه کړئ او د کور کورپاڼې پاپ اپ د یادونې په توګه وکاروئ.

- په دې هفته کې یوه ورځ له نورو ایماندارانو سره یو ځای شئ، تر څو په ګډه د خدای عبادت وکړئ.
- پرېکړه وکړئ چې د سپېڅلي کتاب په لوستلو او دعا په وسیله د خدای سره وخت تېروئ. دا کار تاسو سره مرسته کوي ترڅو له خدای سره ټینګه اړیکه ولرئ.
- ښه دا دی چې د خدای کلام لوستل د لوقا د انجیل او زبور څخه پیل کړئ. د هر یو نه د ورځې یو فصل ولولئ.
- هر ډول هڅونه یا پوښتنه د هفتې په دوران کې د یو بل سره شریکه کړئ.
- د امکان په صورت کې هره ورځ یو ځای پنځه دقیقې دعا وکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved